يو سړي اودس وکړ او په پښه کې يې د يو نوک په اندازه ځای (وچ) پرېښود، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وليد او ويې فرمايل: «ښېرته لاړ شه او سم اودس وکړه». نو وګرځېده او بيا يې لمونځ وکړ

له جابر رضي الله عنه څخه روايت دی، وايي چې: عمر بن الخطاب رضی الله عنه راته وويل چې: يو سړي اودس وکړ او په پښه کې يې د يو نوک په اندازه ځای (وچ) پرېښود، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وليد او ويې فرمايل: «ښېرته لاړ شه او سم اودس وکړه». نو وګرځېده او بيا يې لمونځ وکړ.

[د شواهدو په اعتبار صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

له عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يو سړی وليد چې اودس يې پای ته ورساوه او په پښه کې يې د نوک په اندازه ځای پرېښی و چې اوبه ورته نه وې رسېدلې، نو پاتې شوي ځای ته په اشارې سره يې ورته وويل: ښېرته لاړ شه او په ښه توګه اودس وکړه، بشپړ يې کړه او هر غړي ته يې په اندازه اوبه ورکړه. نو سړی وګرځېد، اودس يې بشپړ کړ او بيا يې لمونځ وکړ.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/8386